مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۰۴/۳۰

وړوند نظر

پخوانیو یاداشتونو کې مې لاسه واهه، په یوه کتابچه وربرابر شوم. دې کې مې د شعرونو په نوم په ګډو وډو کرښو پاڼې توري کړې وې. یو شعر مې نظر جلب کړ او له نن څخه یې ۲۷ کاله وړاندې دور ته ستون کړم:

د پاکستان د جلوزو کیمپ په دعوت او جهاد پوهنتون کې محصل وم. دا د پروفیسور استاد سیاف تر مشرۍ د اتحاد اسلامي تنظیم مربوط و؛ خو د هر تنظیم غړو او غیر تنظیمي خلکو پکې پرته له هر ډول توپیره زده کړې کولې. د زده کړو ماحول واقعاً عالي و او د سیاست له دوړو پاک ستره و .

دا داسې وخت و چې وطن که نه یوازې د خارجي ځواک (شورویانو) درک نه و؛ بلکې د هغوی ملاتړی حکومت هم نسکور شوی و؛ خو جګړه په ټول شدت د هغو تنظیمونو ترمنځ روانه وه چې نږدې هره غونډه یې د (واعتصموا بحبل الله جمیعا و لا تفرقوا) په الهي حکم پیل کیده .خو د دې حکم تطبیق ته د ټولو ملا ماته وه. خونړۍ او ویجاړونکې جګړه په کش کې وه او هره ورځ یې د کابل ښار په کنډوالو بدلوه.

همدغه وخت له کابله یو پلاوی راغلی و او د روان وضعیت په اړه یې په یوه غونډه کې معلومات شریکول. غونډه د جلوزو کیمپ په فامیلیو کې جوړه شوې وه. موږ محصلین هم ور بلل شوي وو. ما ورته یو شعر ولیکه، دوه درې ملګرو چې ولوست نو ویل یې چې خدای ته وګوره ترې تیر شه، ته خو به په غم ککړ شې، خو موږ ته به هم جنجال و ګورې. خو ما سترګې سپینې کړې، د شعر ویلو لپاره مې نوم ورکړ او بیا ستیج ته راوبلل شوم. دا لاندې د سوال او ځواب په فورم کې لیکلی شعر مې ولوست، د غونډې ګډونوالو ښه بدرګه کړ .خو پلاوی غلی و او چې څنګه شعر خلاص شو، نو ما هم غلې پینې سپکې کړې:

وړوند نظر

ما ویل: بس که نور اختر ښه دی
ده ویل: مظلوم لره محشر ښه دی

ما ویل: یتیم له حاله لږ خبر شه
ده ویل: له غم ځینې حذر ښه دی

ما ویل: ماشوم له موره غواړي کالي
ده ویل: ګرمي ده، لنډغر ښه دی

ما ویل: مړه شوو د یخنۍ له لاسه
ده ویل: د ژمي پیښور ښه دی

ما ویل: وسوو، لا تر څو به سوزو
ده ویل: په اور کې سمندر ښه دی

ما ویل: کباب شوو د وحشت په لمبو
ده ویل: عاصي لره سقر ښه دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما ویل: خبرو دې خلک وغولول
ده ویل: ساحر لره منتر ښه دی

ما ویل: وطن په کنډوالو بدل شو
ده ویل: غله لره کنډر ښه دی

ما ویل: له شکله مو وطن ویرېږي
ده ویل: په قبر کې منکر ښه دی

ما ویل: نړۍ ته مو سر ټیټې کړلو
ده ویل: له تاسو نه ډالر ښه دی

ما ویل: خلک تماشې کړي زموږ
ده ویل: دا زموږ هنر ښه دی

ما ویل: له مړو هدیرې ډکې شوې
ده ویل: له ډیرو نه یو سر ښه دی

ما ویل: ستاسې بچې ولې نه مري؟
ده ویل: حکم د قدر ښه دی

ما ویل: خیر ولې وړي تړي نشول؟
ده ویل: بخت یې زورور ښه دی

ما ویل: بخت یې کړ له کومه پیدا ؟
ده ویل: بس کړه ترې گزر ښه دی

ما ویل: دا دور به خدای کړي بدل
ده ویل: چې زر وي، سمه او غر ښه دی

ما ویل: ځان ته دې هیڅ ځای پرېښود
ده ویل: دا ځای نه، قطر ښه دی

ما ویل: تا سره حساب به کوم
ده ویل: تاته هم خنجر ښه دی

ما ویل: لږ خو راته ځان ښکاره کړه
ده ویل: وړوند د تا نظر ښه دی

ما ویل: نعمان له غمه پرېښود ژوندون
ده ویل: ماشوم دی، مرور ښه دی

۳/۱۲/۱۳۷۳ ، دعوت او جهاد پوهنتون، مرکزي لیلیه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ